**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د امت له لارې څخه د حکامو لرې کول

**(ژباړه)**

د ابن حجر عسقلاني په اثر د صحيح البخاري په شرحه فتح الباري کې تر «إماطة الأذى» باب لاندې داسې راغلي دي: له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«**إماطة الأذي عن الطريق صدقة**» (متفق عليه)

***ژباړه:*** *له لارې څخه د هغه شي لرې کول، چې د (مسلمانانو) د ځوريدو لامل کېږي، صدقه ده.*

اســـلام د ژوند په ټولو برخو کې موږ د نېکو اخلاقو رعايت کولو ته دعوتوي. که چېرې يو مســـلمان پر لاره تېرېږي او کوم خنډ ويني، بايد هغه له مخې لرې کړي. که يې ناسـمه خبره واورېده، بايد په معروف يې امر او له منکر څخه يې منعه کړي او که له داسې پېښې سره مخ شـو چې هلته د مرستې اړتيا وه، بايد مرسته ورسره وکړي. اسلام موږ ته راښودلي چې د خپل ژوند په ټولو برخو کې دغه ډول چلند وکړو.

کله چې "په لاره کې د خنډونو او اذيت څيزونو د لرې کولو" په اړه څه وايو، په حقيقت کې د مســـلمانانو له ژوند او لارې څخه د ظالمو حکامو د لرې کېدو په اړه خبرې کوو؛ ځکه پر دغه امت د اوســنيو حکامو له ظلم څخه ستر ظلم او ازار به چېرې وي، چې د خلکو پر وينه او عزت يې تېری کړی دی؟ دغو حکامو هغه خيانت ترسره کړ چې په تاريخ کې يې ساری نه دی ليدل شـوی او داسې خيانتونه يې وکړل چې مسلمانانو يې (د اسلامي حاکميت) په هېڅ دوره کې بېلگه نه ده ليدلې.

پر همدغه اســاس خاين حکام هغه لوی ازار او خنډ دی، چې د مســـلمانانو له ژوند او لارې څخه د هغوی د لرې کېدو لپاره بايد هڅه وکړو! نو (اې مسلمانانو!) له هغو مخلصو دعوتگرانو سره يوځای شـئ، چې د خاينو حکامو د له منځه وړلو لپاره مبارزه کوي او د هغه خليفه د ټاکلو لپاره کار وکړئ چې د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو پر بنسټ عمل کوي او خلک د هوساينې او امنيت لوري ته هدايت کوي.

اې ربه! موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت دولت را په برخه کړه، چې په واسطه يې د مسلمانانو ستونزې او کړاوونه حل شي او لـه هغوی څخه بلاوې او مصـــيبتونه لرې کړي! اې ربـه! پخپـل کريم نور سره ځمکه روښانه کړه! اللهم آمين آمين!

**ژباړه: بهير «وياړ»**